# د جادو او بد نظر

# مسنون علاج

مؤلف

ابو محمد امین الله البشاوری

حفظه الله تعالی

مکتبه محمدیه

منګل مارکیټ بیرون ګنج پیښور

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

د طباعت حقوق محفوظ دی

د کتاب نوم

د جادو او بد نظر مسنون علاج

مؤلف

الشیخ العلامة ابو محمد

امین الله بشاوری حفظه الله

ناشر

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پیښور



بسم الله الرحمن الرحیم

# د جادو او بد نظر مسنون علاج

اِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِیَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

**اما بعد** : قرآن او حدیث هغه بهترین نعمت رب العالمین رالیږلے دے چه د روح او جسد اود ظاهر او باطن پوره علاج

ketabton.com - The Digital Library



پکښې شته دې، دې سره انسان بل کوم شی ته نه محتاج کیږی په دې شرط چه په دې ځان پوهه کړی اویقین پرې وکړی.

الله تعالی فرمائی:

﴿ اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ ﴾.

ترجمه: نن ورځ ماتاسو دپاره ستاسو دین پوره کړو.

بعضې خلق دین ناقص ګڼړی نو نورو اِزمُونو یا مذهبونو ته رجوع کوی. بعضې خلق قرآن او حدیث صرف دروح علاج ګڼړی، د دنیا د سعادت څه کمال پکښې نه وینی. بعضې خلق په ظاهری مرضونو



کښې صرف ډاکټرانو ته رجوع کوی، اوقرآن او احادیثو نبوی کښې چه کوم اذکار راغلی دی هغه معمولی شے ګڼړی، او حال دادے چه هغه اذکار او دعاګانے ددوائی نه زیات طاقت لری، بلکه دُعا دمؤمن وسله ده، لکه حدیث کښې راغلی دی (المستدرك).

نبی کریم ﷺ اذکار او دُعاګانو ته ډیر ترغیب ورکړیدے اود هر وخت او هرے موقعے دپاره ئے خاص اذکار خودلی دی، دهغے یادول هر مسلمان له پکار دی ځکه چه ددنیا او آخرت ډیر لوئے سعادت په

ketabton.com - The Digital Library



کښې دي.

دې باره کښې زمونږ يو کتاب چهاپ شويدې په نوم د (ذکر او دعا مستند کتاب) باندې، دغه شان يو بل کتاب دې په نوم د (دعاء دمؤمن) باندې دا ضرور ځان سره واخلئ.

اوس زه ديو دوو مسئلو باره کښې دا رساله شروع کوم په مشوره د الحاج پراچه باندې، ځکه چه هغه مسئلو ته دخلقو ډير ضرورت دې :

ooooo



**۱- اوله مسئله : د نظر لګيدلو علاج**

**۲- دويمه مسئله :**

**د جادو علاج ته ضرورت ولې دې؟**

۱- ځکه بعضې خلق ددې مرضونو علاج په جادوګرو، کاهنانو او ترويتانو کوي، او ډير مالونه ترې اخلي بلکه عقيدې ورله خرابوي.

بله دا چه (حَلُّ السِّحْرِ بِالسِّحْرِ) جائز نه دې، په راجح قول دعلماؤ کښې، ځکه دا خو رضاده په کُفر باندې، ځکه ته دخپل تکليف دلرې کولو دپاره ساحر (جادو ګر) ته ورشې او هغه جادو کوي ستا په رضا، په

جادو کښې اکثر الفاظ د کُفر وی، دغه شان حدیث د بخاری کښې راځی:

نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنِ النُّشْرَةِ. (مشکاة)۔

ترجمه: رسول الله ﷺ د نُشرے نه منع کړیده۔

نُشره د سړی نه جادو لرے کولو ته وائی کله چه هغه د خپلے ښځے نه بند کړے شی په سِحر سره۔

ددے مسئلے تفصیل زه اوس نه لیکم، تفصیل په الصارم البتار ص (۸۷)، تفسیر قرطبی (۲/۴۹) صحیح بخاری مع الفتح (۱۰/۲۳۲) کښې وګوره۔

او (حل السحر بالقرآن والادعیة الماثورة) جائز دے۔



۳- او حال دادے چه ددے مرض شرعی علاجونه شته دے، لیکن خلق ترے خبر نه دی، ماته به خلق راتلل او ما به ورته بعضے آیتونه خودل یا به مے ورته کیسټ ډک کړو، کله چه پراچه صاحب درخواست د رسالے لیکلو اوکړو، نو دا ماته ډیره ښه خبره ښکاره شوه او په رساله مے شروع وکړه، په (۶/۳/۱۴۱۸ ھ) ربیع الاول یوم الاحد په کالام کوهستان کښې کله چه ځه په سفر تلے وم۔

دعامو مسلمانانو مذهب دادے چه سِحر او سترګے تاثیر لری په اذن د الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



باندې، صرف معتزله اوپه دې وخت کښې بعضې ناپوهان د سِحر اود سترګې تاثير نه منی۔

ليکن د دوئ خبره د قرآن او حديث خلاف ده، دې باره کښې بے شماره احاديث صحيح بخاری او صحيح مسلم اونورو کتابونو کښې وګوره! بلکه دقرآن آيتونه دې باره کښې صريح راغلی دی۔

نو چه کله يو بيمار په ظاهری علاجونو ستړے يا نا اميده شی نو شايد چه په ده به سِحر يا نظر لګيدلے وی، نو دهغې علاج دې بيا په دې راتلونکے طريقه سره وکړی



پوره يقين سره، ان شاء الله تعالی، الله به ئے جوړ کړی۔

**ليکن دا علاج شرطونه لری :**

**اول شرط** : اسلام دے چه لوستونکے به مسلمان وی، صحيح عقيدے والا به وی، که مُشرك وی يا کافر وی نو دا علاج دهغه دپاره نه دے۔

**دويم شرط** دادے :

چه يقين سره به ئے لولی۔

**دريم شرط** دادے : چه دمانځه به پابند وی، دالازمی شرطونه دی۔

او استحبابی **شرط** دادے چه دسحر او

ketabton.com - The Digital Library



ماښام اذکار به یاد کړي، او هغه به پابندۍ سره وائي اود یواځې د مریض حکم نه دے بلکه هر مسلمان دپاره دا اذکار پکار دي۔

بل شرط دادے چه کور کښے به تصاویر نه پریدي ځکه هلته جِنات او شیطانان راځي او ملائك نه داخلیږي۔

بل **شرط** دادے : چه ددے اذکارو په معنی ځان پوهه کول اوتوجه سره لوستل پکار دي۔

بل **شرط** دادے : چه دا اذکار لولی نو ځان به پاك ساتي۔

محترمو رونړو اوخویندو!



ددے اذکارو لوستلو کښے ستاسو دوه فائدے دی، اوله فائده داده چه تاسو به د تعویذونو خلاص شئ۔ دارنګه د کاهنانو او ساحرانو نه به خلاص شئ، او تعویذونه کول که د قران او حدیث نه نه وي نو بیا شرك دے حرام دے او که قران او حدیث پکښے لیکلے شوے وي بیا هم ګناه ده ځکه رسول الله ﷺ دا عمل امت ته نه دے خودلے تفصیل ما په فتاوی الدین الخالص (۶۳/۱) کښے لیکلے دے۔

او کاهنانو ته ورتلل اود هغوی تصدیق کول کُفر دے، لکه حدیث کښے راغلی دی

ketabton.com - The Digital Library



(مشكاة: ١/٥٦، ١/٢٧٦)۔

**دويمه فائده داده**: چه ستاسو مرض به الله تعالى جوړ كړى، ان شاء الله تعالى۔

**خلق جادو ولے كوى**؟

١- كله خلق په يو سړى باندے سحر او جادو كوى د دُشمنئ دوجے نه۔

٢- كله يو ساحر سِحر كوى چه دا خلق ماته محتاج شى، او راشى اوځه ترے مال واخلم۔

٣- كله يو جينئ باندے جرګه وكړے شى او هغه نه وركوى نو خِطبه كونكے ظالم دے، په دے جينئ اوپه باقى كور



باندے سِحر وكړى۔

٤- كله يو انسان واده وكړى نو سِحر كونكے دا واده والا د ښځے نه بند كړى، د شر مولو دپاره۔

او اكثر دا سِحر كيږى، دا وجه ده چه مخكښے دواده نه ځان باندے معوذتين وئيل پكار دى۔

٥- دارنګه نور اسباب هم شته چه دهغے دوجے نه خلق سِحر كوى۔

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

ketabton.com - The Digital Library



**۱- د سحر او جادو علاج :**

دسِحر دوه قسمه علاج دے :

۱- اول قِسم علاج قبل المرض دے یعنے دسِحر د لګیدلو نه مخکښې علاج، چه سِحر وربانده تاثیر ونکړی، اودویم قسم علاج پس د سِحر کیدلو نه دے۔

**اول قِسم** دادے : چه سحر اوماښام به درے درے ځله : ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ یعنی سورت اخلاص، اودرے ځله : ﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ اودرے ځله : ﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ لولی۔

(ابوداود، مشکاة : ۱۸۸/۱، بسند صحیح)۔



۲- دارنګه کله چه اوده کیږی نو دا درے سورتونه یو یو ځل لوستل پکار دی، اودرے ځله به په دواړو لاسونو کښې چُف وکړی اوپه ټول بدن باندے به ئے راکاږی۔

(بخاری، مسلم، مشکاة : ۱۸۶/۱)

بعضے علماء وائی چه دا سورتونه به درے درے ځله لولی، لکه مظاهرِ حق کښې لیکلی دی، دارنګے مُلاعلی قاریؒ وائی په جمع الوسائل ص (۶۰) کښې۔ لیکن ماته صحیح دا ښکاری چه یو ځل لوستل پکار دی ځکه حدیث کښې (کَانَ یَفْعَلُ) الفاظ راغلی دی، یعنے دا فعل به ئے درے ځله

ketabton.com - The Digital Library



کولو، نه قرائت، اوتحقیق په فتاوی الدین الخالص دویم جلد کښې وګوره۔

۳- دارنګ د هر فرض مانځه نه پس یو یو ځل دا درې سورتونه لوستل پکار دي.

(مشکاة: ۱/۸۹)

٤ - دارنګ چه دا کلمات سړے وائی کله چه دسِحر نه ویریږی:

اَعُوْذُ بِوَجْهِ اللهِ الْعَظِيْمِ الَّذِىْ لَيْسَ شَیْءٌ اَعْظَمُ مِنْهُ وَ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِىْ لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَّلَا فَاجِرٌ وَبِاَسْمَاءِ اللهِ الْحُسْنٰى كُلِّهَا مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ اَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَنْ خَلَقَ وَبَرَاَ وَذَرَاَ.

(رواه مالك فى الموطأ : ٧٢٣)۔



کعب الاحبارؒ یو تابعی عالم دے هغه فرمائی: که دا کلمات نه وے چه څه ئې هر وخت وایم نو څه به یهودیانو خر جوړ کړے وے په خپل سِحر باندے۔

ددے ذکر څه خاص وخت نشته، څه وخت چه دے وسع وُشوه وایه!

دلته یوه مهمه مسئله واوره:

هغه دا چه: په عامو اذکارو کښې نقل ضروری دے یعنې هغه ذکر به قبول وی الله تعالی ته کوم چه د نبی علیه السلام نه منقول وی۔

مګر په دم کښې جُدا قانون دے، او هغه

ketabton.com - The Digital Library



دا چه دم په هر لفظ جائز دے، په دوو شرطونو باندے :

**اول شرط** : دا دے چه معنے به ئے معلومه وی، کچرته معنے معلومه نه وه، بے معنی الفاظ وو، د هغے استعمال جائز نه دے، ځکه پته نه لګی چه دا د توحید الفاظ دی که د شِرك، نو د مُشتبهِ الفاظو نه قرآن منع کړیده :

﴿ یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا ﴾.

**دویم شرط** : مسلم شریف (۲/۲۲٤) کښے د عوف بن مالك رض نه روایت دے چه ما نبی صلی الله علیه وسلم ته یو دم پیش کړو، نو هغوی



راته حُکم وکړو چه دا بعضے الفاظ ترے لرے کړه، او بعضے پریده - یعنے دا الفاظ شرکیه ترے لرے کړه او صحیح معنی والا الفاظ پریده - [فَأَمَرَنِیْ بِطَرْحِ بَعْضِهَا].

دغه شان حدیث کښے راځی :

[لَا بَأْسَ بِالرُّقٰی مَالَمْ یَکُنْ فِیْهَا شِرْكٌ]

یعنے : دمونه جائز دی کچرته د شرك الفاظ په کښے نه وی، او که د شرك الفاظ په کښے وی بیا ئے استعمال حرام دے۔

دارنګ قرآن کریم نه انسان دم اچولے شی په مریض باندے یا په ځان باندے اګر که د هغه معین آیت په دغه مرض

ketabton.com - The Digital Library



کښې دنبی علیه السلام نه منقول نه وی، ځکه قرآن ټول شفا دے:

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ﴾۔

عبد الله بن مسعودؓ فرمائی:

[عَلَيْكُمْ بِالشِّفَائَيْنِ الْقُرْآنِ وَالْعَسَلِ]

یعنې: د دوو علاجونو نه فائده واخلئ یو قرآن کریم او بل شهد۔

نو د قرآن کریم هر یو آیت شِفاء ده۔

ددے مسئلے تحقیق الصارم البتار کښې شویدے (۴۰)۔

بل **دلیل** دادے: چه ابو سعید خدریؓ فاتحه په یو مریض لوستلے وه نو بیا نبی علیه الصلاة والسلام ورته وفرمائیل:



[وَمَا يُدْرِيْكَ اَنَّهَا رُقْيَةٌ].

یعنې: ته چا خبرے کړے چه دا رقیه یعنې دم دے۔ نبی کریم ﷺ رد نکړو بلکه تائید ئے وکړو- (بخاری، مسلم، مشکاة باب الاجارة)۔

نو ددے مسئلے په وجه څوك به دا اعتراض نه کوی په مونږ باندے چه ستا سو دے کتاب کښې بعضِ اذکار بے دلیله دی، دنبی علیه السلام نه منقول نه دی۔

۵ - دارنګه سحر او مابنام درے درے ځله

بِسْمِ اللهِ الَّذِىْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَىْءٌ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ۔

لوستل هر مؤمن له پکار دی۔

ketabton.com - The Digital Library



نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : چاچه دا ولوستلو نو په دغه ورځ اوپه دغه شپه به ورته څه نوی مصیبت وُنه رسیږی۔ دایو قیمتی ذکر دے، پابندے ئے کول پکار دی۔

٦ – دارنګه څوك چه هر صبا اووه (۷) عجوه کهجورے وخوری نوز هر اوجادو به پرے اثر نه کوی په دغه ورځ لکه چه بخاری کښې راځی :

[مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ ذٰلِكَ الْيَوْمَ سَمٌّ وَلَا سِحْرٌ].

بلکه د مدینے منورے ټولو کهجورو کښې دا خاصیت شته۔ (کما فی مسلم ۲/۲۲۰).



بلکه عامو کهجورو کښې هم دا خاصیت شته ان شاء الله تعالی۔

۷- قرآن کریم ډیر تلاوت کول دارنګ د ټولو فرائضو پابندی کول ضروری دی اوتوبه ویستل د ټولو ګناهونو نه۔

**۲ - دویم قسم علاج دجادو :**

داعلاج هم دوه قسمه دے یو عملی دے دویم قولی دے اوداعلاجونه به پس دجادو لګیدلو نه کولے شی۔

**۱ - اول قسم عملی علاج** دادے چه مریض ښکر ولګوی یعنی حجامت دے وکړی ، نبی صلی الله علیه وسلم بانده جادو شوے وو،

ketabton.com - The Digital Library



هغه په سر کښې حجامت وکړو، دا يو باريك قِسم علاج دے، تفصيل زاد المعاد (٢:) کښې ابن القيمؒ کړيدے۔

بله دا چه کچرته ممکن وی نو هغه سِحر او جادو دے راوُباسی او ودے سيزی يا دے وِشکوی لکه نبی ﷺ باندے چه کله جادو وُشو نو هغه جادو راويستلو او ګذار ئے کړو (کما فی البخاری)۔

ليکن د جادو د راويستلو به شرعی طريقه اختيارولے شی يا مباحه طريقه، لکه خوب کښې درته راشی چه جادو فلانی ځائے کښې پروت دے، يا په دے



مريض باندے پيريان وی نو چه کله راشی دهغوی نه دے تپوس وکړی چه تاسو چا مقرر کړی وئ، او جادو چرته دے، ليکن احتياط پکار دے پيريان اکثر دروغ وائی۔

دا رنګه که نورے طريقے مباحے وی په هغے دے جادو راوُباسی، دے سره جادو ختميږی۔

## دويم قِسم علاج د جادو

اذکار شرعيه دی۔ د اذکار شرعيه دلوستلو يوه طريقه داده چه د شنے بيرے اووه پانړے به راواخلی او وُبه ئے ټکوی، بيا به هغه دومره اوبو کښې واچوی چه غُسل

ketabton.com - The Digital Library



پرے کیږی، بیا به دا آیتونه په دے اُوبو ولوستلے شی:

۱ – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْم

اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖ اِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ کُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَا یَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ.

(البقرة: ۲۰۵)۔

۲ – وَاَوْحَیْنَا اِلٰی مُوْسٰی اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَاِذَا هِیَ تَلْقَفُ مَا یَاْفِكُوْنَ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا



یَعْمَلُوْنَ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِیْنَ وَاُلْقِیَ السَّحَرَةُ سٰجِدِیْنَ قَالُوْا آمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ رَبِّ مُوْسٰی وَهَارُوْنَ.

(اعراف: ۱۱۸ – ۱۲۲)

۳– وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِیْ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِیْمٍ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰی اَلْقُوْا مَا اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ فَلَمَّا اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰی مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ اِنَّ اللّٰهَ سَیُبْطِلُهٗ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِیْنَ وَیُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ.

(سورت یونس: ۷۹ – ۸۲)

۴ – قَالُوْا یٰمُوْسٰی اِمَّآ اَنْ تُلْقِیَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ

ketabton.com - The Digital Library



اَوَّلَ مَنۡ اَلۡقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلۡ اَلۡقُوۡا فَاِذَا حِبَالُهُمۡ
وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ اِلَيۡهِ مِنۡ سِحۡرِهِمۡ اَنَّهَا تَسۡعٰى
﴿٦٦﴾ فَاَوۡجَسَ فِىۡ نَفۡسِهٖ خِيۡفَةً مُّوۡسٰى
﴿٦٧﴾ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡاَعۡلٰى ﴿٦٨﴾
وَاَلۡقِ مَا فِىۡ يَمِيۡنِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوۡا ط اِنَّمَا صَنَعُوۡا
كَيۡدُ سٰحِرٍ وَلَا يُفۡلِحُ السَّاحِرُ حَيۡثُ اَتٰى ﴿٦٩﴾
فَاُلۡقِىَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوۡۤا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوۡنَ
وَمُوۡسٰى ﴿٧٠﴾

(سورت طه: ٦٥ - ٧٠)

٥ - بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قُلۡ يٰۤاَيُّهَا الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿١﴾ لَاۤ اَعۡبُدُ مَا
تَعۡبُدُوۡنَ ﴿٢﴾ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ عٰبِدُوۡنَ مَاۤ اَعۡبُدُ ﴿٣﴾



وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدۡتُّمۡ ﴿٤﴾ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ عٰبِدُوۡنَ مَاۤ
اَعۡبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمۡ دِيۡنُكُمۡ وَلِىَ دِيۡنِ ﴿٦﴾

٦ - بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿١﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾
لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُوۡلَدۡ ﴿٣﴾ وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ
﴿٤﴾

٧ - بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قُلۡ اَعُوۡذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ
﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾ مِنۡ شَرِّ الۡوَسۡوَاسِ
الۡخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِىۡ يُوَسۡوِسُ فِىۡ صُدُوۡرِ النَّاسِ
﴿٥﴾ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

كله چه دا آيتونه ولولى بيا دے مريض دا

ketabton.com - The Digital Library



اوبه وڅکي دوه درے ځله اوپه باقي اوبو دے غسل وکړي۔

اودا عمل دے دوه درے ځله وکړي که په يوه پيره کار ونه شو، دا ډيره مجربه طريقه ده، که څوك دښځے نه بند کړے شوے وي د هغه دپاره هم مفيده ده۔

(وګوره فتاوى ابن باز : ۲۷۹/۳) فتح المجيد (۳۴۶) الصارم البتار : ۱۰۹، مصنف عبد الرزاق (۱۳/۱۱) العلاج بالرقى للقحطاني ص (۹۶) فتح البارى (۱۲۳۳/۱۰)۔

۲- دارنګه سورت فاتحه اوسورة اخلاص او آية الکرسى اود سورت بقرے آخرى دوه آيتونه او ﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾



او ﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ دے په مريض دم کړي او چُف دے ورسره کوي اوپه درد منند ځائے دے ورله لاس وهي، که عورت نه وي۔ اوکه عورت وي هغه سړے يا ښځه دے خپل لاس په هغه ځائے وهي۔

(کما في البخاري، مشکاة)۔

دادم دوه درے ځله مکررول پکار دي۔

۳- درانګه دا راتلونکي ټول آيتونه او سورتونه دے دم اچونکے په مريض ووائي يا دے مريض خپله په ځائے وائي، که نه ورځي اونه څوك دم اچونکے وي کيسټ کښے دے ټيپ کړي۔

ketabton.com - The Digital Library



او مریض یعنے جادو والا دے بار بار د ورځے
اوری، دوه ځله یا درے ځله، ان شاء الله
تعالی چه الله پاك به ئے جوړ کړی، هغه
آیتونه او سورتو نه دادی :

١ - اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ مِنْ هَمْزِهٖ
وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ
مَالِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ اِهْدِنَا
الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ
عَلَیْهِمْ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّالِّیْنَ
(الفاتحه).



٢ - بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ الٓمٓ (1) ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَیْبَ فِیْهِ هُدًى
لِّلْمُتَّقِیْنَ (2) الَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ وَیُقِیْمُوْنَ
الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ یُنْفِقُوْنَ (3) وَالَّذِیْنَ
یُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ وَمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ
وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ یُوْقِنُوْنَ (4) اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ
رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ . (البقرة).

٣ - اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

﴿ وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّیَاطِیْنُ عَلٰى مُلْكِ
سُلَیْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَیْمَانُ وَلٰكِنَّ الشَّیَاطِیْنَ
كَفَرُوْا یُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا اُنْزِلَ عَلَى
الْمَلَكَیْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ وَمَا یُعَلِّمَانِ مِنْ

ketabton.com - The Digital Library



أَحَدٍ حَتَّى يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ
فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ
وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ
وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا
لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَلَبِئْسَ مَا
شَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ (102)

دا بار بار اولوله. (البقرة)

٤ – اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ
الرَّحِيمُ (163) إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي
تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ



مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا
وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ
وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ
لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (164)

(سورة البقرة: ١٦٣ – ١٦٤)

٥ – اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ
وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ
ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ
وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا
شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا
يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ (255)

ketabton.com - The Digital Library



(سورة البقره : ۲۵۵).

٦ – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

آمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُوْنَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ (285) لاَ يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِيْنَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلاَنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِيْنَ (286)



(سورة البقرة : ۲۸۵ – ۲۸٦).

٧ – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

شَهِدَ اللّٰهُ أَنَّهُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (18) إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الإِسْلاَمُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ إِلاَّ مِنْ بَعْدِ مَا جَائَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِآيَاتِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهِ سَرِيْعُ الْحِسَابِ (19)

(سورة آل عمران : ۱۸ – ۱۹).

٨ – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

إِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِىْ سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِى اللَّيْلَ

ketabton.com - The Digital Library



النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيْثًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ
مُسَخَّرَاتٍ بِاَمْرِهِ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ تَبَارَكَ اللّٰهُ
رَبُّ الْعَالَمِيْنَ (54) اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً
اِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ (55) وَلَا تُفْسِدُوْا فِي
الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا اِنَّ
رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ (56)

(اعراف: ٥٤ - ٥٦).

٩ - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

وَاَوْحَيْنَا اِلٰى مُوْسٰى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَاِذَا هِيَ
تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ (117) فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا
كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (118) فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا
صَاغِرِيْنَ (119) وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِيْنَ



(120) قَالُوْا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ (121) رَبِّ
مُوْسٰى وَهَارُوْنَ (122)

دا آیتونه ډیر ډیر اولوله خاصکر دا قول
د الله تعالی ﴿وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِيْنَ﴾
دیرش (۳۰) ځله تکرار کړه. (اعراف: ۱۱۷ - ۱۲۲).

۱۰ - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهُ
اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ وَيُحِقُّ اللّٰهُ
الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ

دا آیتونه بار بار تلاوت کړه خاصکر دا
قول د الله تعالی: ﴿اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهُ﴾.

۱۱ - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

ketabton.com - The Digital Library



﴿ اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴾.

دا ډير ډير اولوله.

(سورة يونس : ٨١ – ٨٢).

١٢ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَّأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ (115) فَتَعَالَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ (116) وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُوْنَ (117) وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِيْنَ (118).

(سورة المومنون : ١١٥ – ١١٨).



١٣ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالصَّافَّاتِ صَفًّا (1) فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا (2) فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا (3) إِنَّ إِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ (4) رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ (5) إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ (6) وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ (7) لَا يَسَّمَّعُوْنَ إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ (8) دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ (9) إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴾ (10)

(الصّافات : ١ – ١٠).

ketabton.com - The Digital Library



١٤ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ
الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْا أَنْصِتُوْا فَلَمَّا قُضِيَ
وَلَّوْا إِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ (29) قَالُوْا يَا قَوْمَنَا إِنَّا
سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ
يَدَيْهِ يَهْدِيْ إِلَى الْحَقِّ وَإِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ (30)
يَا قَوْمَنَا أَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللهِ وَآمِنُوْا بِهِ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ
ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ أَلِيْمٍ (31) وَمَنْ لَّا
يُجِبْ دَاعِيَ اللهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ
وَلَيْسَ لَهُ مِنْ دُوْنِهِ أَوْلِيَاءُ أُوْلٰئِكَ فِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ
(32) (سورة الاحقاف : ٢٩ – ٣٢).

١٥ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ •



يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوْا
مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوْا لَا
تَنْفُذُوْنَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ (33) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (34) يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ
وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ (35) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (36)

(سورة الرحمن : ٣٣ – ٣٦).

١٦ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا
مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا
لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ (21) هُوَ اللهُ الَّذِيْ لَا
إِلٰهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ

ketabton.com - The Digital Library



الرَّحِيْمُ (22) هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْمَلِكُ
الْقُدُّوْسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ
الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (23) هُوَ
اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِءُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰى
يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِى السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ (24)

(سورة الحشر: ٢١ – ٢٤)۔

١٧ – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اُوْحِىَ اِلَىَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْا
اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا (1) يَّهْدِىْ اِلَى الرُّشْدِ
فَاٰمَنَّا بِهٖ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا اَحَدًا (2) وَاَنَّهُ تَعَالٰى



جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا (3) وَاَنَّهُ
كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا (4) وَاَنَّا ظَنَنَّا
اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا (5)
وَاَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ
الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا (6) وَاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا
ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا (7) وَاَنَّا لَمَسْنَا
السَّمَاءَ فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا
(8) وَاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ
يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا (9)

(سورة الجن آيت: ١ – ٩).

١٨ – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ketabton.com - The Digital Library



قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ
وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)

(سورة الاخلاص).

١٩ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ
(2) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (3) وَمِنْ شَرِّ
النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا
حَسَدَ (5)

دا قول د الله تعالى به بار بار لولى :

﴿ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴾

(سورة الفلق).



٢٠ – اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1) مَلِكِ النَّاسِ (2)
إِلٰهِ النَّاسِ (3) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (4)
الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5) مِنَ الْجِنَّةِ
وَالنَّاسِ (6) (سورة الناس).

٤ – دا رنګ دم اچونکی لره دا کلمات وئيل ډير ضروري دي او دا کلمات د هر مرض دپاره فائده لري :

اَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيَكَ

دا کلمات به اووه ځله وائي ، لکه ترمذي،

ketabton.com - The Digital Library



ابو داود کښې دا حدیث وګوره !

نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي : په مریض چه دا کلمات ولوستلې شي ضرور به جوړېږي، که اجل ئې نه وي راغلې.

۵ - دارنګه مریض دې خپله دا کلمات وائي :

(بِسْمِ اللهِ بِسْمِ اللهِ بِسْمِ اللهِ) درې ځله او

(اَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ)- اووه کرت او خپل لاس دې په درد مند ځائې کیدې.

۶ - دارنګه دا دُعا دې دم اچونکې یا مریض خپله اولولي :



اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ اَذْهِبِ الْبَاْسَ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا.

(مسلم، مشکاة: ۱۴۰/۱).

۷ - دارنګه دا دې ولولي :

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَّهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَّامَّةٍ.

(بخاري، مشکاة).

۸ - اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَاَنْ يَّحْضُرُوْنِ.

۹ - دارنګه دا دُعا دې ولولي :

بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيْكَ وَمِنْ

ketabton.com - The Digital Library



شَـرِّ كُلِّ نَفْسٍ اَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اَللّٰهُ يَشْفِيْكَ بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ

دا دعـاء ګـانے دجـادو دپـاره کـار ورکوی دارنګـه دستـرګو دلګيـدلو دپاره هم کار ورکـوی، بلـکـه دټـولـو مرضونو دپاره کار ورکوی، ډير فائده مند دعاء ګانے دی۔

۱۰ – دارنګـه يـو حديث کښے راغلے دی چـه يـو سـړی باندے پيريان ناست وو، دماغ ئے خراب شـوی وو، نـو نبی صلی الله عليه وسلم پـرے دا آيتونه ولوستل نو روغ شو۔

سورت فاتحه تر – وَلَا الضَّآلِّيْنَ پورے، بيا آلم ذٰلِكَ الْكِتٰبُ نه تر اُولٰئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ



رَّبِّهِمْ پورے – بيا وَاِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ (163) اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ.

تر آخره ددے آيت پورے۔

(سورت بقره آيت نمبر (۱۶۳ – ۱۶۴)

بيـا آية الـكرسی ، بيـا درے آيتـونـه دسورت بقرے : لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ نه تر آخره پورے۔ بيا وړومبی دوه آيتونه د سورت آل عمران بيا :

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ.

ketabton.com - The Digital Library



بیا د سورت اعراف دا آیت:

﴿ اِنَّ رَبَّکُمُ اللهُ الَّذِیْ ﴾ : تر آخره پورے

(٥٤) بیا د سورت مؤمنون دا آیت:

﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا﴾ تر آخره

سورت پورے (١١٥) بیا د سورت جن دا

آیت: ﴿ وَاَنَّهٗ تَعَالٰی جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً

وَّلَا وَلَدًا ﴾ (آیت: ٣)

بیا د سورت صافات اولنی لس آیتونه۔

بیا ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴾ بیا ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴾ بیا ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴾

ابن السنی په (عمل الیوم واللیلة) کښې دا روایت راوړیدے رقم (٦٣٢) اوسنداً کمزورے دے لیکن تول



د قرآن آیتونه دی، عمل پرے صحیح دے، لکه مخکښې دا مسئله ذکر شوه۔

دا بعضے مختصر علاجونه ما ذکر کړل د دفع د سِحر د پاره، ان شاء الله څوك چه دا یقین سره استعمال کړی، رب العالمین به ترے جادو لرے کړی، او څه تاثیر به پرے نکوی۔

ځکه قرآن کریم دشِفاء کتاب دے۔

وبالله التوفیق۔

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

ketabton.com - The Digital Library



# د نظر لګیدو علاج

سترګے لګیدل حق دی، لکه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، او د حدیثو په تولو کتابونو کښے ذکر شوی دی، ددے نه منکرین داحادیثو نبوی منکر دی۔

سترګے خپل تاثیر نه کوی بلکه رب العالمین پکښے تاثیر اچوی د هغے هم علاجونه بیا شریعت اسلامی خودلی دی۔

د سترګو هم دوه قِسمه علاج دے، یو مخکښے دلګیدلو نه، دویم پس دلګیدلو



نه۔

(۱) - کله چه دسترګو لګیدلو خطره وی په یو ماشوم باندے، یا په زنانه یا پخپل ځان باندے، نو د هغے علاجونه دادی:

۱- شرح السنة (۱۳/۱۱٦) کښے امام بغوی رحمه الله نقل کړیدی د عثمان بن عفان رضی الله عنه نه چه هغه فرمائی: [سَوِّدُوْا نُوْنَتَهٗ] د ماشوم زنه توره کړئ نو نظر به نه لګیږی پرے۔

۲- دارنګه کله چه سړے یو شے اووینی که خپل وی او که پردے وی اوښه ورته ښکاره شی نو دُعاء دبرکت دے وکړی (بَارَكَ اللّٰهُ)۔

ketabton.com - The Digital Library



لکه حدیث د موطأ ، نسائی او مسند احمد کښې راغلې دی۔

٣- هغه اذکار او دعاګانې کومې چه مخکښې تیرې شوې په علاج د سحر کښې هغه دعاګانې دسترګو لګیدلو دپاره هم فائده ورکوی۔ نو هغه زده کول ئې ضروری دی۔

٤ - دارنګه دا دُعاء دې ولولی :

مَا شَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَيْهِ .

(موطا : ٩٣٨/٢، مسند احمد (٤٤٧/٤)۔

٥ - په چا چه خطره وی دسترګو دلګیدلو نو د هغه محاسن او ښائسته



ځایونه دې پټ کړې شی۔

(کما فی زاد المعاد : ١٧٣/٤) وشرح السنه (١١٦/١٣)۔

(٢)- قِسم علاج دسترګو لګیدلو دادې:

١- کله چه نظر ولګیږی په چا نو که سړې معلوم وی نو هغه دې اودس وکړی او مستعملې اوبه دې مریض استعمال کړی، او غسل دې پرې وکړی۔

(ابوداود، زاد المعاد : ١٦٣/٤)۔

٢- دارنګه په اوبو دې دم وا چوی او چُف دې کړی، اوبیا دې مریض هغه اوبه وڅکی اوباقی دِ وا چولې شی د هغه په بدن

ketabton.com - The Digital Library



باندے۔

(رواه ابوداود: ١٠/٤)۔

یا دے د زیتون په تیلو باندے دم واچوی او مریض دے پرے ځان غوړ کړی۔

(کما فی مسند احمد: ٤٩/٣) السلسلة الصحیحة (١٨/١) برقم: (٣٧٩)۔

٣ - دارنګه که دمریض دپاره سورت فاتحه او آیة الکرسی او آمن الرسول تر آخره پورے او ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ ولیکلے شی او اوبه دے مریض وڅکی۔



(مجموعة الفتاوى: ٦٤/١٩، الصارم البتار (٢٠٠)۔

دا یو څو علاجونه په اختصار سره ما ولیکل، که څوك تفصیل غواړی نو:

(الصارم البتار) د عبد السلام بالی، زاد المعاد ٤ جلد، زمونږ فتاوى الدین الخالص ٢ جلد، الدعاء من الکتاب و السنة للقحطانی، وقایة الانسان من الجن و الشیاطین)، فتح الحق المبین فی علاج الصرع و السحر و العین) ته دے رجوع وکړی۔

دا دمونه ستاسو دخیر خواهئ او فائدے په نیت ولیکلے شو، تاسو ترے فائده واخلئ۔

ketabton.com - The Digital Library



وبالله تعالى التوفيق۔

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه اجمعين۔

سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك۔

حرره ابو محمد امين الله وفرغ منه يوم الخميس (١٤١٨/٣/١٠هـ)

وكتبه بالكمبيوتر:

ابو سلمان حضرت محمد بشاور۔

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*